مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جـهاني

۲۰۲۰/۱۲/۰۴

# د علامه اقبال ځلوريځي

## دريمه برخه

| | |
|---|---|
| بیا ای عشق ای رمز دل ما | اې د زړه پيونده عشقه د ژوند مينه له تا بناده |
| بیا ای کشت ما ای حاصل ما | هم مي کښت هم مي حاصل يې راسه زما د زړګي مراده |
| کهن گشتند این خاکي نهادان | جوړ له خاورو انسانان دي زاړه سوي له عمرونو |
| دگر آدم بنا کن از گِل ما | بل آدم راته را جوړ که زموږ له ختو له بنياده |
| **** | **** |
| تراشیدم صنم بر صورت خود | ما د خپل صورت په شکل يو صنم ځان ته تراشلی |
| به شکل خود خدا را نقش بستم | که مي خدای ځان ته جوړ کړی ما خپل شکل دی ليدلی |
| مرا از خود برون رفتن محال است | اوس به څرنګه را وزم د خودی له شبستانه |
| به هر رنگی که هستم خود پرستم | په هر رنګ کي و خپل ځان ته پر سجده يم پرېوتلی |
| **** | **** |
| هزاران سال در فکرت نشستم | زه د فکر سمندر ته لاهو سوی په قرنونو |
| ز خود بگسستم و بر غیر بستم | له خپل ځان څخه را بېل سوم د اغيار په پيوندونو |
| و لیکن حاصل عمرم سه حرف است | د دي ټول عمر حاصل مي له دريو تورو بل څه نه دي |
| تراشیدم، برستیدم، شکستم | بت تراش وم، بت پرست سوم، بت شکن سوم د نکلونو |
| **** | **** |
| تو میگویی که من هستم خدا نیست | ته خوا وايي چي زه يمه مګر خدای پر دنيا نسته |
| جهانِ آب و گِل را انتها نیست | د اوبو ختو جهان دی د وجود انتها نسته |
| هنوز این راز بر من ناگشوده ست | خو زه اوس هم نه پوهېږم دغه راز را معلوم نه سو |
| که چشمم آنچه بیند هست یا نیست | چي زما دوي سترګي يې ويني ريښتيا سته او که دا نسته |



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ